# حَقٌّ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ أَنْ يَغْتَسِلَ فِي كُلِّ سَبْعَةِ أَيَّامٍ يَوْمًا، يَغْسِلُ فِيهِ رَأْسَهُ وَجَسَدَهُ». «دا په هر مسلمان حق دی چې په هرو اوو ورځو کې يو ځل غسل وکړي، چې په هغه کې خپل سر او خپل ځان ووينځي

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «حَقٌّ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ أَنْ يَغْتَسِلَ فِي كُلِّ سَبْعَةِ أَيَّامٍ يَوْمًا، يَغْسِلُ فِيهِ رَأْسَهُ وَجَسَدَهُ». «دا په هر مسلمان حق دی چې په هرو اوو ورځو کې يو ځل غسل وکړي، چې په هغه کې خپل سر او خپل ځان ووينځي».
[صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی)]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې: د طهارت او پاکوالي په موخه په هر عاقل او بالغ مسلمان دا حق دی چې د اون په هرو اوو ورځو کې يوه ورځ غسل وکړي؛ خپل سر او بدن ووينځي، او د دې کار لپاره تر ټولو غوره ورځ د جمعې ورځ ده لکه څرنګه چې له ځينو رواياتو څخه همداسې انګېرل کيږي او د جمعې په ورځ د جمعې له لمانځه څخه مخکې غسل کول تاکيدي مستحب عمل دی، اګر که د پنجشنبې په ورځ يې غسل هم کړی وي مثلا، او دا چې دا عمل واجب ندی دليل يې د عائشې رضي الله عنها وينا ده چې فرمايي: هغه مهال خلک کاريګر و ، نو کله به چې د جمعې لمانځه ته لاړل نو همغه د کار په بڼه به لاړل: نو ورته وويل شو: "که غسل مو کړی وای "، بخاري روايت کړی، يعني د خولو او داسې نور بويونه به ترې تلل، خو لدې سره يې بيا هم ورته وويل: "که غسل مو کړی وای" نو له دوی پرته په نورو خلکو خو په طريقه اولی سره واجب ندی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65084

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee